# د الميو الميه

ځلان مومند / ترجمه مشتاق مجروح يوسفزے

جون ايليا يو ځل په ترنگ کښې راغلے وۀ او وئيلي ئې وو چې:

حادثوں کا حساب هې اپنا
ورنه هر آن سب کي باري هې

نو زمونږ حکمرانانو د جون ايليا دا انديښنه يا يقين د شپاړسو کروړو عوامو مقدر جوړ کړو. په امريکې د نائن اليون د تباهۍ ټول چرق چې کله زمونږ په سرونو راپريوتو نو هغه وخت يوه الميه دا وشوه چې په دې ملک د يو داسې افلاطون حکمراني وه چې فوځي جرنيل هم وۀ. د هغۀ وينا وه چې کله هغۀ حکومت په لاس کښې واخستو يعنې چې کله ئې بغاوت وکړو نو هغه د مملکت د رموزو نه ډير ښۀ خبر وۀ. صرف معاشي مسئلې د هغۀ په فهم کښې په گرانه راتلې ولې ورو ورو ئې په هغې کښې هم مهارت حاصل کړو. خو د خپل بې پناه فهم او فراست د غير معمولي ډيروالي باوجود هغۀ د دې اندازه ونۀ لگولې شوه چې کله هغۀ د لاجسټک سپورټ په نوم د دهشت گردۍ په جنگ کښې د هراول کردار ادا کول شروع کړل. دغه وخت په کابل او قندهار کښې د امريکنيانو سره ښنگ په ښنگ د جنگيدو او طالبانو او القاعده له د ماتې ورکولو به څۀ نتيجې راوځي. دې خبرې له هډو اهميت ور نۀ کړے شو چې کۀ القاعده يا طالبان د کابل او قندهار نه وويستلې شي نو هغوي به برسبن يا کيپ ټاؤن ته خو نۀ ځي بلکې د لاجسټک سپورټ په لارو به واپس دې خوا راځي.

او بيا د پيپلز پارټۍ يو بزرگ مشر (بزرگ مشر هر ځائے کيدے شي) ميجر جنرل ريټائرډ نصير الله خان بابر خو طالبان خپل بچي گڼل او د طالبانو په جوړولو ئې کريډټ ئې کړه ترلہ. نو په داسې صورت حال کښې دا اوسنۍ الميه چې مخې ته راغله دا د بل هيچا په غاړه نۀ شي اچولے کيدے. هر څو کۀ حادثې د ټولو په قسمت کښې ليکلې شوي دي خو د سوات، دير او بونير خلقو سره چې څۀ وشو، هغوي د اوښکو دريابونه بهيولي دي. د کور نه د بې کوره کيدو تکليف خو يو اړخ ته نور چې دا خلق د کومو تکليفونو نه راتير شوي دي د هغې بيانول هم گران دي.

دا اوسنۍ نقل مکاني د تاريخ د ټولو نه لويه گڼلې شي او دې ته نقل مکاني وئيلو سره د دې الميې شدت کميدے نۀ شي، دا خو نقل مکاني نۀ ده په دې کښې خو خلق بې سروسامانه شوي، در په در شوي او د يوې زبردستې خوارۍ سره مخ شوي دي. په کيمپونو کښې چې کوم صورت حال دے د هغې ذکر به تاسو په اليکټرانک ميډيا او اخبارونو کښې لوستے وي خو ډيرې داسې قصې شته چې هغه نۀ دي بيان شوې. کله چې د سوات د لرې سر نه د امريکې د سلامتۍ دپاره او د خپلو سرونو بچ کولو په غرض يوه قافله راروانه شوه چې پکښې اووۀ

ماشومان او د هغوي خواران مور او پلار وو او ورسره څۀ لږه ډېره د لارې توښه وه نو هغوي د خپلې دې توښې په لُوټ کېدو به څومره ځورېدلي او د کوم غم او درد نه تېر شوي وي او د دغې ښځې خوابې چې ناروغه وه او تللې نۀ شوه چې د دې لوئې هجرت اجر ئې نۀ شو لرلې په دې دليل کور کښې پاتې شوه چې هغه اوس په ژوند څۀ کوي؟ بس چې د هغې د بچو سر په سبورې شي او د مرګ نه بچ شي. نو هغه بې ياره او مددګاره په کټ کښې پرته د بلې بمبارۍ انتظار کوي چې کله به کېږي چې د هغې د انتظار دا ګړۍ ختمې کړي. د دې ټولې قافلې د خلقو سره د اوښکو بهيولو او ژړا فرياد نه سېوا بله لار نۀ وه. هيڅا به د دهشت ګردۍ خلاف د مغرب د سلامتۍ د پاره د دې نه لويه قرباني نۀ وي ورکړې. کۀ څوک ريکارډ جوړول غواړي يا د ډونرانو زړونه نرمول غواړي نو لږ دې د دې خلقو کېمپونو ته لاړ شي او د چا نه دې تپوس وکړي چې څۀ مو بائلل او څوک درنه پاتې شو؟ دې هجرت ته د دنيا د تاريخ لوئې هجرت وئيلې شي او په دې کښې څۀ شک هم نشته. خو د دې حقيقت د تسليمولو نه پس دا رښتيا هم منل پکار دي چې د دومره لوئي بحران د حل کولو ذمه واري صوبائي حکومت ته سپارل او بيا د هغوي نه په ښه طريقه د دې د ترسره کولو اميد نۀ شي کېدے. او دا اميد څنګه کېدے شي چې د دې بحران د حجم او شدت باره کښې صرف او صرف يوه رائې ده. په دې سخت او المناک وخت کښې ځنې ذمه وارۍ خو عام خلق د انساني همدردۍ په توګه تر سره کوي او ډېره په ښه طريقه ئې ادا کوي. خو چې چا پښتنو له دا درد ورکړے دے نو هغوي له اوس د دارو درملو فکر هم کول پکار دي او په څۀ بحث کښې د نښتو نه بغېر هغوي له په دې مسئله کښې د خپل کردار نشاندهي کول ضروري دي. مونږ په دې وئيلو کښې هيڅ باک نۀ لرو او نۀ پکښې د څۀ تامل نه کار اخلو چې د دې اوسني بحران او د دې نه پس بل څۀ داسې صورت حال کښې د وفاق برخه ډېره زياته جوړېږي. خو تر اوسه اخباراتو ته دا نۀ دي ښودلي شوي چې وفاق د دې حالاتو د مخ نيوي د پاره صوبائي حکومت له څۀ نغدې يا نور څۀ امداد ورکړے وي يا ئې څۀ تربيت يافته خلق د دې ذمه وارۍ ترسره کولو د پاره ورکړي وي کوم چې په دا قسمه حالاتو کښې مددګار او معاون ثابتېدے شي. دلته د ډاکټرانو، پېراميډيکس، استاذانو، خدمتګارانو او د رهنمايۍ کونکو وفاقي ملازمانو يو خاص شمېر پکار وۀ چې کوم بحران چې د وفاق له لاسه پېدا کړے شوے دے د هغې مداوا په داسې انداز کښې وکړي چې د الميو شمېر راکم کړے شي. هسې هم دا بين الاقوامي قانون دے چې د دې زپلو شوو او بې کوره شوو خلقو سمبالښت به وفاق کوي. دا د هغې خلقو هم فرض جوړېږي چا چې د القاعده او طالبانو اهم کسان نيولي او امريکې ته ئې حواله کړي او په هغې ئې لوئي لوئي انعامونه اخستي دي. هغوي له هم پکار دي چې په دې قومي الميه کښې خپل کردار ادا کړي او په قول د دوي د معزول شوو او مستعفي شوو صدرانو او جرنېلانو چې مونږ سره د يو ملک د چلولو پوره انفرا سټرکچر موجود دے. نو دغه انفرا سټرکچر چې په دې سخت وخت کښې عملي نۀ کړے شي نو بيا به کله پکارېږي؟ دا بيله خبره ده چې د داسې کارونو کولو نه پس دوي د هغې بلونه هم وصولوي. کله چې زلزله راغلې وه نو

يو څو غټ ګاډي پکښې استعمال شوي وو او چې د هغوي کوم پټرول خرچ شوي وو نو د هغې بل صوبائي حکومت له رالېږلے شوے وۀ چې ډېره موده تري يوه مسئله جوړه وه. کېدے شي چې داسې مسئلې اوس هم وي خو د دې مسئلې به څۀ علاج خو وشي کنه.